﴿ ۱۸ ﴾

# فيض الله بنياني

## مورخ ـ عالم او ليکوال

د هجرت په نهم قرن کي يوه مشهوره علمي کورنۍ په هند کي تېره سوې ده چي په جنوبي هند کي د علم او سياست او اداري او قضا له پلوه مشهوره‌وه او دوی خپل ځانونه بنياني ګڼل او بنيان ته منسوب وو.

اول بايد دا خبره سپينه کړم، چي دغه بنيان چېري وو، او دې علمي کورنۍ له کومه ځايه نشوونما کړې ده؟

د اسلامي دورې په جغرافي کتابو کي موږ د بنيان ځرك نه مومو، او لرغوني جغرافياوال ئې يادونه نه کوي، خو زموږ د وطن يو مشهور مورخ منهاج سراج جوزجاني چي د مغولو له تاړاکه سره هند ته تللی او خپل کتاب طبقات ناصري يې په دهلي کې په (۶۵۸ ه) ليکلی دئ د دې ښار نوم اخلي او داسي وايي :

"چون لشکر مغل بر ملك حسن قرلغ در غور زدند او منهزماً غزنين و کرمان و بنيان بجانب بلاد ملتان و زمين سند آمد. (۱) منهاج سراج څلور ځايه لکه په حاشيه کي چي دمخو عدد راغلی دي بنيان راوړي او ښکاره معلومېږي چي دا ښار د غزني او ملتان تر منځ واقع وو. ځکه چي کرماز (په دوو زورو) خو تر اوسه هم په دغه نامه د وزيرستان او تيرا



تر منځ د شلوزان او اېريوب او کرمي سره متصل پروت دی (۲) او تر دغي سيمي چي ورتېر سې، نو د پخواني بنيان (اوسني بنون) علاقه شروع کيږي، او دا لار له غزني او ګردېزه څخه د بنون پر لوري د غزنويانو او غوريانو په عصر کي د هند مشهوره لار وه او اکثر فاتحان به پر دغه لار تېرېدل.

اوسنی بنون (پخوانی بنيان) د پکتيا د غرو او سپين غره تر سلسلې وروسته په سمه کي پروت دی او د سوق الجيشی پخوانی لار ده او تر بنون وروسته نو د هند سمه خوره شروع کيږي.

داسي ښکاري چي بنيان د دې ښار هندی سو ی نوم وو که نه وي زموږ د وطن يوه بل مورخ فخر مدبر مبارکشاه خو د دې نوم کټ مټ لکه اوس چي تلفظ کيږي د پښتنو په لهجه (بنو) راوړي دئ (۳) چي اوس يې موږ خلق (بنوځي) بولو او د پښتنو د سيمي په زړه کي واقع دئ، د ګومل او پېواړ لاري د غزني او ګردېز له خوا تولي پر دغه سيمه وروزي او د منهاج سراج له بيانه ښه ښکاري چي د ده د عصر بنيان هم دغه (بنون) دئ. د احمدشاه بابا له عصره بيا د امير علي شېر عليخان تر زمانې پوري دغه مځکه د افغانستان له شرقي ولاياتو څخه يو خاص ولايت و چي شرقي بريد يې د اباسين څنډي وې، او د امير دوست محمدخان په وختو کي به يو شهزاده لکه سردار محمد افضل خان يا سردار محمد اعظم خان د دې ولايت نائب الحکومګان وو. اما دلته بايد دا خبره هم هېره نه سي چي ځينو خلکو دغه بنيان يا اوسنی بنون د البلاذری عربي مورخ له بنه سره ګډه کړئ دئ. البلاذری وايي : چي مهاب بن ابی صفره د معاويه په زمانه کي په (۴۴) هـ کال بنه او (الاهوار) ته ورسېدئ، او د ازدي شاعر دا عربي بيت هم راوړي :

الم تر ان الاز دليـــــــــله بينوا

بينه كانوا خبر جبش المهاب (۴)

دغه بنه او (الاهوار) ځينو ليكوالو اوسنى (بنون) او (لاهـور) ګڼلـئ دئ، مګر د البلاذرى (الاهوار) لاهور نـه سـي كېـدلای، ځكـه اول خـو البلاذری پخپله تصريح كوي چي دغه دوه ځايونه د كابل او ملتان تر مينځ وو نو د كابل لار خو هند ته د ننګرهار له خوا ځخه پړ پېښـور او مـردان وروتله، نه پر بنون. دوهم دا چي د عربو (الاهوار) كټ مټ پښتو كلمـه ده (اواره) او مقصد يې دغه اوسنى د مردان (سمه) ده چي بابر يې په تزوك كي په فارسي همواري يعنى سمه مځكه تعبير كوي، او تـر اوسـه هـم (بنه) د مردان په سيمه كي په دغه نامه سته چي په تينګه د البلاذرى لـه بيانه سره تطبيق كيږي، (۵) او هم دلتـه د كابـل د هنـدو شـاهانو دوهـم پايتخت (اوهند = ويهند) اوسنى (هند) واقع دئ، او دا هغه سيمه ده چي د سنسكريت پخوانى عالم پـاني نـي هـم د دغـه ځـاى د (۳۵۰ ق، م) او چيني سياح هيون تسنګ په اومه ميلادي پېړۍ كي د دغه عالم د تولد پر ځاى يوه كتيبه هم ليدلې وه.

اوس چي ښكاره سوه چي بنيان دغه اوسنى (بنـون) دئ نـو بـه زه د دغي سيمي يو نامتو پوهاند او ليكوال هم دروښيم :

## صدر جهان فيض الله :

فيض الله د زين العابدين زوی او د حسام لمسی و، د جنوبي هندوستان د ګجرات د شاهانو په عصر كي چي له (۷۹۹ تر ۹۸۰ ه) پـوري هلتـه حكمرانان وو، قاضی حسام د خپل علمي لياقت په سبب د دوی په دربار كي ډېر مخور و، او د لوی وزير مقام يې درلود، د ده القاب "ملك القضـاه او صدر جهان" وه، او پخپله فيض الله ليكي "ملك القضـاة صـدر جهـان



لقب قاضي حسام صدر بنياني جد مولف بود" (۶) پخپله فيض الله د دغي شاهي كورنۍ په دربار كي لوی قاضي او د سياسي مقام خاونـد و، او د محمود شاه بيګړه بن محمد شاه بن احمدشاه بن محمدشاه بن مظفـر شـاه (۷) چي (ل ۸۶۳ تر ۹۱۷ ه) يې شاهي كړېده، (۸) په دربار كي صـدر جهان او لوی قاضی او سياسي سفير وُ. دا خبره موږ ته نه ده ښكـاره، چي دغه بنيانۍ كورنۍ كله د پښتونستان له دغي سـيمي (بنـون) ځخـه هند ته تللی ده، مګر پخپله فيض الله ليكي، چي زمـا ور نيكـه (قاضـی صدرالدين) هم د ګجرات د پادشاهانو په دربار كي ملك القضات او صدر علما وُ، ځكه چي د فيض الله د ژوندانه زمانه د (۸۵۰ ه) حدود دي، نـو بنايي دِ ده دري نسله دمخه زمانه يو قرن پخـوا (۷۵۰ هـ) وي، او پسـله (۷۰۰ ه) دغه كورنۍ له بنون ځخه هند ته تللې وي.

## د ده تاليفات :

صدر جهان قاضي فيض الله بنياني په فارسي او عربـي ډېـر تاليفونـه لري او معلوم تاليفونه يې دا دي :

۱. تاريخ محمودشاهي : په ۹۰۷ ه كال فيض الله د ګجرات لـه دربـاره د دكن د بدر محمد آباد ته په رسالت تللی وُ، او په دغه وخت كي ده د منهاج سراج د طبقات ناصري په ډول يو غټ تاريخي كتـاب وكـيښ، او د طبقات ناصري پاته برخه يې تر خپـل عصـره بشـپړه كـړه، د دې كتاب څو مشهور نسخې په مشهورو كتابخانو كي سته، چي يـوه د برتانيا په موزيم او بله د هند په بانكي پوره (۹) او مليي يـوه قلمـي نسخه د پښتونستان د پېښور د ښاغلي مولانـا سـيد فضـل صـمداني (بالامانی) په كتابخانه كي ليدلې وه، چي د هند د اسلامي دورې لپاره ډېر ښه ماخذ دئ، او د محمودشاه ګجراتي پاچا په نامه ليكـل سـوئ

دئ، فارسي يې روانه او متوسطه ده، له پخوانو فارسي تاريخو څخه يې ډېر مطالب پکښې اقتباس کړي دي.

۲. تاريخ صدرجهان : ستوری دا کتاب په دغه نامه يادوي، او دا نه معلوميږي چې هغه تاريخ محمودشاهي دئ که به بل کتاب وي؟ ځني محققين دا کتاب يو بېل اثر ګڼي، چې د محمدقاسم فرشته ماخذ هم دي، او سرپ چند په صحيح الاخبار کې د دغه کتاب نوم اخلي.

(۱۰)

۳. فيض الله د خپل کتاب تاريخ محمودشاهي په مقدمه کې ليکلي چې ما د قرآن عظيم يو تفسير د "تفسير معظم" په نامه ليکلئ دئ.

۴. دستور الحفاظه، د تاريخ محمودشاهي د مقدمې په حواله.

۵. خلاصه الحکايات " " "

۶. رسايل نظم و نثر عربي و فارسي " "

۷. مجمع النوادر : د دغه کتاب يو ه خطي نسخه ما په قندهار کې ليدلې وه، او اوس هغه نسخه د لاهور د پوهنتون، د مرحوم محمودشيراني په مجموعه کې محفوظه ده، دا کتاب ده د عروضي سمرقندي د چهار مقالې په پيروي ليکلی او خلوبښت فصله لري، او د پوهانو او شاهانو او شاعرانو او اميرانو او وزيرانو قصې دي، په ۹۰۳ هـ چې فيض الله د محمدآباد په ښار کې و، هلته يې دا کتاب وکښن، او محمودشاه ته يې وړاندي کړ، چې ډېر مفيد تاريخي مطالب لري.

(۱۱)

## د دې کورنۍ ځيني نور تاليفات :

د فيض الله بنياني له نوشتو څخه ښکاري چې د ده پلرو او نيکونو هم ډېر کتابونه ليکلي وو او دغه د علم خاوندان په عربي او فارسي ډېر تاليفونه لري. په مجمع النوادر کې وايي : "و نيز سيرت آباء اين داعی



چنان بود، که مدت حيات خود از تصانيف فارغ نبوده، اند، چنانك صدر العلماء بدرالمحققين قاضی صدرالدين بنيانی فرجد اين داعی تفسير بحر المعانی و شرح کافيه کفاية الکافيه و شرح وافی نحو کافی و شرح قصيدهٔ کعب زهير و شرح قصيده برده و شرح قصيدهٔ قاضی عبدالمقتدر و شرح قصيدهٔ امالی و شرح علل خليلی و چند کتاب ديگر ساخته است و اليوم آن کتب حجت علماست."

د فيض الله يو بل نيکه مولانا منهاج بن صدر بنيانی و، چې دا عالم هم د ډېرو تاليفاتو خاوند دئ، او پخپله فيض الله يې د مجمع النوادر په يوه ځای کې داسې يادوي : "مولانا منهاج بن صدر بنيانی شرح بخاری و شرح مسلم و شرح عين العلم و شرح فصوص ساخته است، و داد سخن دران داده است ... و جمله تصانيف ا واز هشتاد بگذشته است و اکثر آن کتب بنام سلاطين ماضيه يعنی بنام آباء (در اصل ابناء؟) حضرت سلطان العهد محمودشاه بن محمدشاه ... گردانيده ..."

## د فيض الله د انشاء نمونه :

اوس چې تاسې د بنيان دغه عالمه کورنۍ وپېژنده، دلته به يو څو کرښې د فيض الله له تاريخ محمودشاهي څخه د نمونې په ډول رانقل کړم :

"آورده اندکه سلطان محمود هميشه در حديث العلماء ورثة الانبياء و در بودن قيامت و در نسب خود از سبکتگين متردد بود، تا صحيح است يا نه؟ شبی تنها جائی ميرفت و فراشی شمعدان زر پيش وی می برد، طالب علمی راد يد در مدرسه کتابی مطالعه ميکرد، و از سبب تاريکی در وقت اشکال، هر بار کتاب را پيش دکان بقال می برد، و از نور چراغ او حل الفاظ می طلبيد، سلطان را بر وی دل بسوخت، و آن شمعدان زر

به وی بخشید. همان شب حضرت مصطفی را صلی الله علیه وسلم بخواب دید، که اورا فرمود : یا بن سبکتگین ! اعزك الله فی الدارین کما اعززت وارثی. هر سه مشکل او حل شد. (۱۲) *

## لمن ليكونه


۱. طبقات ناصری ۲، ۶۰۷، ۶۳۰، ۶۳۹، ۶۸۶ طبقهٔ ۲۳.

۲. حيات افغانی، ۳۹۳.

۳. د آداب الحرب اقتباس د لاهور چاپ ص ۱۲.

۴. فتوح البلدان ص ۴۳۳.

۵. یوسفزی افغان ص ۲۵۸.

۶. مجمع النوادر، خطی ص ۸۶ ب.

۷. تاریخ محمودشاهي (خطی) ورق ۵۱۸.

۸. دول اسلامیه، خلیل ادهم ص ۴۸۴.

۹. وګورئ د ربو فهرست ۸۶، او د ستوري پرشن لټریچر، ۱، ۱۱۰، او بانکي پور د کتب خانې فهرست ۶، ۴۶۲.

۱۰. وګورئ د ایلیوټ تاریخ ـ ج ۶ ص ۷۵۲ ج ۸ ص ۳۱۴.

۱۱. وګورئ اورینټل کالج مګزین ۱۹۳۹ ص ۹۸، ۱۰۶ اسلامیك کلچر، ۲ کال څلورمه شماره (اکتوبر ۱۹۴۶) ص ۴۲۴.

۱۲. آریانا مجله، ۱۳۴۱ ل کال، ۱۲ ګنه، ۷ ـ ۱۲ مخونه.


* د محمود شاهی تاریخ خطی نسخه، ص ۲۸۸.